بسم الله الرحمن الرحيم

# په افغانستان کې د نه لیږدیدونکې یوې رایې (SNTV) سیستم څیړنه

## لړم ۱۳۹۰

## نوملړ

منډه ... ٤
راپور ته لنډه کتنه ... ٥
د تحقیق طریقه ... ٥
د تحقیق څخه لاس ته راوړنې ... ٦
وړاندیزونه ... ٦
د موضوع کلي معرفي ... ٧
د تحقیق موخې ... ٧
میتودولوژي ... ٨
د ټاکنیزو نظامونو ډولونه ... ٨
الف: اکثریتي سیستم ... ٨
ب: تناسبي سیستم ... ٩
ج: مختلط سیستم ... ٩
د نه لیږدېدونکې یوې رایې SNTV سیستم. ... ٩
په یوهیواد کې رایې ورکونې د سیستم رامنځ ته کولو لپاره لازم معیارونه ... ٩
په افغانستان کې ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰کلنو د ټاکنو په تجربوسره د SNTV سیستم ارزونه ... ۱۰
د مقننه قوې پرکړنو د SNTV سیستم تاثیرات ... ۱۱
د منتخبو استازو لخوا رایه ورکوونکو ته د ځواب ورکونې پراصل دSNTV تاثیرات ... ۱۳
د سیاسي گوندونو په پراختیا او دهغوی په داخل کې د دیموکراسی اصل په رواجولو کې د SNTV سیستم رول ... ۱٤
په هیواد کې د اپوزیسیون په رول باندې د SNTV سیستم رول ... ۱٥
په ټاکنیزو ادارو کې د میرمنو او اقلیتونو د استازیتوب پرتامین باندې د SNTV سیستم تاثیرات ... ۱٦
د ټاکنیزو سیالیود مالي چارو پر شفافیت باندې د SNTV ټاکنیزسیستم تاثیرات ... ۱۷
منتخبو ادارو ته د نتوتلوپه برخه کې د محلي زورواکو په مخنیوی کې د SNTV سیستم رول ... ۱۸
پایلې: ... ۱۹

وړانديزونه: ........ ۲۱
منابع ........ ۲۳
ضمايم: ........ ۲٤

## مننه

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټولټاکنو موسسه (فیفا) د ټولو هغه شخصیتونو، ارګانونو،سیاسی ګوندونو اوپه هېواد کې د نظرخاوندانو څخه مننه کوي، چې د فیفا سره يې د دې پروژې په څېړلو کې مرسته کړې ده او په ځانګړې توګه د مدني ټولنو، سیاسي ګوندونو استازو، د پوهنتون استادانو او ټولو هغه شخصیتونو چې په انفرادي او ګروپي ډول مرکو او بحثونو ته حاضر شوي او د خپلو نظریاتو په شریکولو سره يې د فیفا سره د دغه څېړنې په بشپړولو کې مرسته کړې، فیفا ورڅخه مننه کوي.

همدا راز د یادولو وړ ده، چې د دغه څېړنې د ترسره کولو په برخه کې د مالي حمایت له امله د ټاکنیزو نظامونو د بین المللي بنسټ (IFES) او د USAID اداري څخه مننه او قدرداني وشي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټولټاکنو موسسه (فیفا) ، د یوې مدني ټولنې په حیث په دې پوهیږي چې خپل مسوولیت او رول د مدني فعالیتونو له لارې په هېواد کې د دیموکراتیک بهیر د پیاوړتیا لپاره ترسره کړي، دغه څېړنه د ټاکنیز سېستم په اړه ده چې یوه مهمه موضوع ګڼل کیږي او په هیواد کې د ولسواکۍ او سیاسي نظام د پیاوړتیا په برخه کې ارزښتناکه رول لري. د دغه موضوع په اړه فیفا خپلې څېړنې او پایلې د دې راپور د لارې د محترمو لوستونکو په واک کې ورکوي.

که چېرته لوستونکي د دغه راپور د موضوعاتو او مسایلو په اړه زیات معلومات ، وړاندیزونه او یا هم نیوکې لري نو د مهرباني له مخې دې، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ فیفا سره شریکې کړي او زمونږ سره دې په هېواد کې د دیموکراسۍ د پیاوړتیا په برخه کې ملګرتیا وکړي.

**احمد نادر نادری**

**د فیفا عمومی رییس**

## راپور ته لنډه کتنه

د رایي ورکولو طریقه او یا ټاکنیز سیستم په د یموکراتیکو هېوادونو کې مهم اود خاصې توجه وړ لاربنود ګڼل کیږي، ځکه چې ټاکنیزسیستمونه په ټوله کې د سیاسي پراختیا په بهیر، د سیاسي نظامونو په جوړښت، اقتصادي نظام او په یوه هېواد کې د قدرت په تشکیل باندې مستقیم اثرات لري، همدارنګه ټاکنیزسیستمونه کولای شي چې د سیاسي مشرانو په ټاکلو کې سرنوشت جوړونکی رول ولري.

څرګنده ده چې د ټاکنوپه سیستم کې اصلاحات په ټولو هېوادونو کې سیاسي پراختیا ته پام کې نیولو سره په دومداره توګه وي او د سیاسي مشرانو د توجه په لومړیتوب کې ځای لري ځکه چې د سیستم نوعیت او موثریت په یوه هېواد کې د ثبات او انکشاف د عمده محرکاتو څخه دی.

د وروستیو کلنو په اوږدو کې په افغانستان کې د ټاکنیز نظام د اصلاحاتو په سر د ملي او بین المللي ارګانونو لخوا اوږده بحثونه شوي دي خو تراوسه پورې په دغه برخه کې عملي ګامونه نه دي اخیستل شوي. نو په دې اساس لازمه ده چې د دغه بحثونو د معیاري او څېړنیز شکل له پایلو څخه د ټاکنیز سیستم په اصلاح کې کار واخیستل شي.

## د تحقیق طریقه

د افغانستان دازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (فیفا) د یو مدني ارګان په حیث په ملي او بین المللي کچه د ټاکنو څخه د نظارت تجربې په لرلو سره په افغانستان کې د نه لیږدیدونکي یوې رایي سیستم کارولو او نه کارولو په اړه څېړنې ترلاس لاندې نیولې دي.

د څېړنې په لومړی مرحله کې په افغانستان کې د SNTV سیستم د کارونې او نه کارونې په اړه د ټولو موجودو اسنادو او مدارکو د تفصیلي مطالعې د بشپړېدو څخه وروسته چې د مدني ټولنو استازي، سیاسي ګوندونه، پارلمان، دولتي اداری، د نظرخاوندان، د پوهنتون استادان، د ښځو د حقونو فعالینو او نورو ډلو سره د مرکو او جلسو د لارې لاس ته راغلې دي، یو د بل سره شریک شوي او د هغوی له نظریاتو څخه د دې راپور په بشپړېدو کې استفاده شوې ده.

فیفا، د څېړنې د لومړی مرحلې د بشپړیدو په موخه د SNTV سیستم په اړه د موجودو اسنادو تفصیلي مطالعې سربېره پردې د اساسي قانون، ټاکنیزقوانین ، د ملي او بین المللي ارګانونو د اسنادو، راپورونو ، انفرادي او ګروپي مرکو څخه په لاس راغلي معلومات، د موثرو طریقو څخه په استفادې سره د فیفا د تحلیلګرانو لخوا د ارزونې وروسته د یوه تحقیقي راپور په شکل کې راټول شوي او په افغانستان کې د ټاکنیز سیستم په اړه خپاره شوي راپورونه چې په دغه برخه کې په کتل شویو اسنادو او راپورونو کې د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان د ۲۰۰۵،۲۰۰۴ او ۲۰۱۰کلنو راپورونه او د ټاکنو د مشترک کمېسیون د۲۰۰۵ د اروپایي اتحادیې د ۲۰۰۹ د افغانستان لپاره د سرمفتش د دفتر ۲۰۱۰ د فیفا د۲۰۰۵ او ۲۰۱۰، د ازادو ټاکنو اسیایي بنسټ انفرل په ۲۰۰۹ د بین المللي بحران دګروپ په ۲۰۱۱ او د انفرل د ۲۰۰۵ کال کې خپاره شوي راپورونه شامل دي.

د پورته ذکر شویو راپورونو او اسنادو مطالعه او څېرنه د یوه معیاري پوښتنلیک د لارې ترسره شوې ده ، د موضوع په اړه ټول لاس ته راغلي معلومات په دغه پوښتنلیک کې لیکل کیدل او بیا محقق خپل تحلیل له دغه پوښتنلیک سره یوځای کولو او په اخره کې دغه ټول معلومات د یوه خاص میتود له مخې ارزول کیدل.

د نه لیږدیدونکي یوې رایي د سیستم په اړه د اطلاعاتو او معلوماتو د راټولو په برخه کې د میداني ، انفرادي مرکو او مجلسونو په دایرولو سره استفاده شوې ده.د ګروپي او انفرادي مرکو د لارې لاس ته راغلي ټول معلومات په ځانګړو اوموثرو طریقو څخه په کاراخیستنې سره د فیفا د تحلیلګرانو لخوا د ارزونې وروسته د یو تحقیقي راپور په شکل راټول شوي دي.

## د تحقیق څخه لاس ته راوړني

له تحقیق څخه لاس ته راغلي پایلي د دې څرګندونه کوي چې په افغانستان کې د نه لیږدیدونکي یوي رایيSNTVسیستم کاروونه او یو لړ ګټي او نیمګړتیاوې لري، چې په هېواد کې یې د سیاسي بهیر په پراختیایي اثرات روښانه دي.لکه څرنګه چې لیدل شوي د دغه سیستم تطبیق او د رایي ورکوونکو د پوهاوي په برخو کې اسانتیاوي شته او په همدي دلیل په هغه هېوادونو کې کارول کیږي چې د ګاکنو تجربه یکي نوي ترسره کیږي. خو په افغانستان کې د ۲۰۰۵او ۲۰۱۰کال ګاکنې چې دSNTVسیستم پراساس ترسره شوي د دې برخلاف چې دیموکراتیک اصول اوسیاسي پراختیا کې مهم رول ولري خو د دې برعکس څرګند شوي، چې د SNTVسیستم سره په افغانستان کې دیموکراسي او د سیاسي ګوندونو پیاوړي نه شول.

همداراز دغه سیستم د نورو ټاکنیزو سیستمونو، تناسبي او مختلط سره په پرتله د نوماندانو د مالي سرچینو د شفافیت اصل نه لري نو له دې امله د انتقاد لاندي راځي.دSNTVسیستم داپوزیسیون په تقویت کې ریښتني مثبت تاثیرات نه لري، ځکه چې د تیرو دواړو ټاکنو په دوران کې دغه سیستم د ګوندونو او سیاسي اپوزیسیون د انکشاف پر وړاندي عمده مانع وو.

که څه هم د فعال او موثر اپوزیسیون عدم موجودیت د دې لامل شو، چې مدني ټولنې په دې ونتوانیدلي چې د اصلاحاتوپه بهیر کې خپل رول ترسره کړي، په همدې دلیل دغه سیستم په مدني ټولنو کې پلویان نه لري او ورځ تربلې د مدني ټولنو په منځ کې د یاد سیستم د بدلون پلوی په زیاتېدو دی.

د تحقیقاتو په پایله کې جوته شوه، چې په دغه سیستم کې د پورته ذکر شویو نیمګړتیا سربېره اقلیتونه نه شي کولای چې په منتخبو ادارو کې خپل استازېتوب ترلاسه کړي نو له دې امله پرې نیوکه کیږي، اوبل داچې د زیاتو رایو د ضایع کېدو پراساس په منتخبو ادارو کې د خلکو ریښتني استازیتوب د پوښتني لاندي راځي.

د تحقیق څخه لاس ته راوړني، دا روښانه وي چې دغه سیستم خپلواکه انفرادي استازیتوب د پیاوړتیا له امله د لړی پرتو سیمو څخه د جنګسالارانو راتګ ته لار هواروي چې دغه کار هم په ریښتني او عادلانه استازیتوب منفي اغیزې لري.

## وړاندیزونه

- ✓ د ټاکنیز سیستم اصلاحات باید د مسوولو ارګانونو د ټاکنو خپلواک کمېسیون عدلیي وزارت د کاري اجنډا په سرکي باید ځای شي.
- ✓ د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو او د نظر خاوندانو سره د پراخو مشورو له لاري باید د دغه سیستم بدیل په ګوته او قانوني ادارو ته یې وړاندي کړي.
- ✓ کمېسیون باید د سیستم د تغیر په اړه د مدني ټولنو او سیاسي ګوندونو په همکاری له ټاکنو څخه د مخه په ټول هېواد کې د عامه پوهاوي کمپاین پیل کړی.
- ✓ مدني ټولني دې د یاد سیستم د بدیل په اړه دقیقي، مسلکي او بې طرفانه څېړني وکړي او په دغه برخه کې دې خپل وړاندیزونه د ټاکنیزو او قانون جوړوني ارګانونو سره شریک کړي.
- ✓ مدني ټولني، سیاسي ګوندونه اوخپلواکه رسنی باید په دې اړه د خلکو د جلب او حمایت په منظور بحثونه زیات کړي ترڅو سیاسي ګوندونه او قانوني اداري د دغه سیستم تغیر ته اړ شي.
- ✓ کمېسیون باید د تخنیکي او د مشورو د عملي کولو له نظره، ګوندونو د سهمیي د څرنګوالي په اړه د نظرخاوندانو او د سیاسي ګوندونو نظرونه تشخیص او عملي کړي.
- ✓ په بدیل سیستم کې باید د ښځو د زیات سیاسي ګډون په منظور د مېرمنو د سهمیي سربېره یو لړ نور هڅوونکي امتیازات دې په قانون کې په پام کې ونیول شي.
- ✓ د نوي سیستم عملي کول باید داسې ترسره شي، چې له یو پلوه د ملي ګوندونو رامنځ ته کول تامین کړي او د بل پلوه په هېواد کې د غیر موثر ګوندونو مخنیوی وکړي.

## د موضوع کلي معرفي

په ديموکراتيکو هېوادونو کې رايي ورکونه او د ټاکنيز سېستمونه يو مهم اصل ګڼل کيږي او د ځانګړي توجه وړ وي.ځکه چي په مجموع کې دغه سېستمونه د سياسي بهيرونو په پراختيا او د سياسي نظامونو په جوړولو، اقتصادي نظام او د قدرت تشکيل باندې مستقيم تاثيرات لري.همداراز ټاکنيزسېستمونه کولای شي، چي په يوه ټولنه کې د سياسي مشرانو رول وټاکي.

کولای شو چي په ساده ټکو کې د ټاکنو سيستم په دي ډول تعريف کړو:[يو ميکانيزم دی چي د ټاکنو په پروسه کې په شفافه او عادلانه توګه د خلکو رايي په څوکيو بدلوي] ممکن په پام کې نېول شوي څوکی: د رياست جمهوری، پارلمان او د محلي شوراګانو څوکی وي.

لکه څنګه چي وويل شول د ټاکنو سېستم کولای شي چي په هېواد کې د سياسي پراختيا په برخه نا محسوس تاثيرات ولري.همدا وجه ده چي زياتره هغه هېوادونه چي د ديموکراسي په لوري نوي ګامونه اخلي، هڅه کوي چي د ټاکنو په قانون او مقرراتو کې اصلاحات رامنځ ته کړي، د ټاکنو سېستم د خپل ضرورت او سياسي پراختيا د اجتماعی فرهنګ د مقتضاتو برابر ټاکل او ترسره کيږي.

افغانستان د سختو تاريخي مراحلو او جنجالونو څخه د تيرولو وروسته، بلاخره په ۲۰۰۲کال کې د بن د کنفرانس له دايرېدو وروسته د ديموکراسی پر لور ګام پورته کړ او د هغي په تعقيب يي دوه ځله ټاکني په ۲۰۰۵او ۲۰۱۰کلنو کې د نه ليږدېدونکي يوي رايي ( SNTV) سېستم د لاري تجربه کړې.

د نه ليږدېدونکي يوې رايي سيستم په برخه کې نړيوالو تجربو ښودلې چي دغه سېستم د لومړي ځل لپاره په جاپان کې عملي شوی، په دغه هېواد کې د ياد سېستم د انتخاب موخه دا وه چي د ايتلافونو د تشکيل څخه مخنيوی وشي ترڅو په پارلمان کې ځانګړي ډله قدرت ترلاسه نه کړي، په هغه وخت کې دغه کار د سياسي پراختيا په برخه کې د لومړيتوبونو څخه ګڼل کېده، خو په جاپان کې محيطي، سياسي، قومي ترکيب او په هغه وخت کې د دغه هېواد ضرورتونه او شرايط د فعلي افغانستان سره نه شي پرتله کېدای.

څرګنده ده چي د ټاکنو د سېستم اصلاحاتو ته په پام سره د سياسي پراختيا په ټولو هېوادونو کې يو دوامدار بهير وو، چي د مشرانو او د سياسي ګوندونو د توجه وړ وو، ځکه چي د ټاکنو موثر نوعيت کولای شي چي په يوهېواد کې د ثبات او انکشاف عمده محرک اوسي.د وروستيو کلنو په اوږدو کې د ټاکنيز نظام د اصلاح په موخه د ملي او بين المللي ټولنو لخوا بحثونه شوي خو تراوسه پوري يي په اړه عملي ګامونه ندي اخېستل شوي. نولازمه ده چي دغه بحثونه معياري بڼه غوره کړي او د پايلو څخه يي د ټاکنو د سيستم په اصلاح کې کار واخيستل شي.

## د تحقيق موخې

په افغانستان کې سياسي پراختيا نوي پيل شوې ده او د ديموکراسۍ د قانوني کيدا په لور يي ګامونه پورته کړي، نولازمه ده چي د نوي افغانستان ضرورتونو او لومړيتوبونو ته پام سره د ( SNTV)سېستم کارول او نه کارول چي ۲۰۰۵او ۲۰۱۰کلنو ترسره شوي ټاکني وڅېړل شي او د ترلاسه شويو معلوماتو په رڼا کې داصلاح اوتغير په صورت کې ورڅخه کار اخېستل کيږي.

دافغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ فيفا د يو مدني ارګان په حيث چي په ملی او بين المللي کچه د نظارت تجربه لري په افغانستان کې د نه ليږدېدونکي يوې رايي ( SNTV)سېستم د کارولو اونه کارولو په اړه تحقيقات د لاس لاندې نيولي دي.

ددغه تحقيق په لومړي سر کې د نه ليږديدونکی يوي رايي ( SNTV) سېستم کارولو او نه کارولو په اړه د موجوده اسنادو اومدارکو تفصيلي مطالعه کړي.

## میتودولوژي

فیفا، دڅېړنې د لومړۍ مرحلې د بشپړېدو په موخه د SNTV سیستم په اړه د موجودو اسنادو تفصیلي مطالعې، سربېره د اساسي قانون، ټاکنیزو قوانین ، د ملي او بین المللي ارګانونو د اسنادو، راپوروښو ، انفرادي او ګروپي مرکو څخه په لاس راغلي معلومات، د موثرو طریقو څخه په استفادې سره د فیفا د تحلیلګرانو لخوا د ارزونې وروسته د یوه تحقیقي راپور په شکل کې راټول شوي او په افغانستان کې د ټاکنو د سیستم په اړه په څپاره شوي هغه راپورونه چې کتل شوي دي: د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان د ۲۰۰۴،۲۰۰۵ ، ۲۰۱۰، د ټاکنو د مشترک کمیسیون د۲۰۰۵ د اروپایي اتحادیې د۲۰۰۹ د افغانستان لپاره د سرمفتش د دفتر ۲۰۱۰ د فیفا د۲۰۰۵او ۲۰۱۰،د ازادو ټاکنو اسیایي بنسټ انفرل په ۲۰۰۹ د بین المللي بحران ګروپ په۲۰۱۱ او د انفرل د ۲۰۰۵کال راپورونه شامل دي.

د پورته ذکر شویو راپورونو او اسنادو مطالعه او څېړنه د یوه معیاري پوښتنلیک د لارې ترسره شوې ده ، دموضوع په اړه ټول لاس ته راغلي معلومات په دغه پوښتنلیک کې لیکل کېدل او بیا محقق خپل تحلیل له دغه پوښتنلیک سره یوځای کولو او په اخره کې دغه ټول معلومات دیو خاص میتود له مخې ارزول کیدل.

د نه لیږدېدونکي یوې رایې په برخه کې د لازمو معلوماتو او اطلاعاتو د راټولولو په منظور فیفا د انفرادي او ګروپي مرکو څخه استفاده کړې ده.

په لومړي قدم کې د تحقیق د معیاري طریقو څخه استفاده شوې او په دوه بېلابېلو لېستونو کې یې د مرکه کوونکو شمېر ترتیب کړې او په دویم لیست کې یې هغه کسان درج کړي چې د مرکې لپاره په نظرکې نیول شوي و او په ګروپ کې شامل وو.

په دویم قدم کې د تفصیلي مطالعې څخه د لاس ته راوړنو پر اساس د فیفا د پروګرام څانګې کارکونکو په ګډه سره معیارې سوالونه ترتیب کړي و.

د ګروپي کار په بهیر کې د عمومي او اختصاصي برخو سوالونه تقسیم شول، د ژبې ، ادبیات او د سوالونو ډولونه (خلاص، بند، نیمایي خلاص)چې تحلیل څخه وروسته د مرکې په فارم کې طبقه بندي کېدل او په دوو بېلا بېلو فارمونو کې انفرادي او ګروپي مرکې ترتیب کیدې.

هغه کسان چې مرکې ورسره شوې، په هغوی کې د ټاکنیزو ادارو استازې، د پارلمان غړي ، سیاسي ګوندونه، مدني ټولنې او د نظرخاوندان شامل وو،چې د مرکې په موخه د هرې کټګورۍ څخه د ځانګړي پوښتنلیک کې په خاصه طریقه لیکل کېدل اواواز یې هم ثبت کېده. د مرکې کولو لپاره دوه تنه موظف کیدل او په دغه برخه کې یې ځانګړې روزنه ترلاسه کړې او د مشخصو کسانو سره یې مرکې کړې دي.

د انفرادي او ګروپي مرکو څخه ټول لاس ته راغلي ټول معلومات د خاصو طریقو څخه په استفادې سره د فیفا تحلیګرانو دغه مرکې ارزول کیدې او د راپور په شکل کې ترتیب کیدل.

## د ټاکنیزو نظامونو ډولونه

باید په یام کې ونیول شي ټاکنیز نظامونه په لاندې ډول وېشل شوي چې په اړه یې مختصر معلومات وړاندې کیږي:

## الف: اکثریتي سیستم

اکثریتي نظام هغه نظام ته ویل کیږي چې د زیاتو رایو ترلاسه کوونکي یکې بریالي ګڼل کیږي، اګر که دغه اکثریت مطلق وي او که نسبي، البته د اکثریت مطلق یا نسبي معیار د قانون پورې مربوط کیږي.

### ب: تناسبي سیستم

یاد نظام ته ځکه تناسبي وایي ، چې د دغه نظام په تطبیق کې د رایو له فیصدی څخه استفاده کیږي او د پارلمان څوکۍ د فیصدي پراساس لاس ته راوړل کیږي، چې ترمخه یې مستقیم معقول او قانع کوونکی تناسب رامنځ ته کیږي.

په دغه سیستم کې د خپلواکو استازو په پرتله ګوندونه خپل استازي زیات نوماندوي او همدا رنګه د حوزو پرځای په ملي کچه په ټول هیواد کې د سیاسي ګوندونو رایی حسابیږي، د بیلګې په توګه، که چیرته د الف ګوند ۱۵سلنه رایې ترلاسه کړي په مقابل کې یې په پارلمان کې ۱۵سلنه څوکۍ ترلاسه کوي.

### ج: مختلط سیستم

په حقیقت کې دغه سیستم له پورتنیو دوو سیستمونو څخه جوړ دی، هیوادونه خپلو شرایطو او ټولنې ته په پام کې نیولو سره یوازې یو نه انتخاب وي بلکې مختلط غوره کوي ځکه چې دغه سیستم د هغوی د ټولنې د شرایطو او عیني واقعیتونو سره اړخ لګوي او بل دا چې په هیواد کې د سیاسي پراختیا په برخه کې ځواب ورکونکی دی.

### د نه لیږدیدونکې یوې رایې SNTV سیستم.

دغه سیستم په مجموع کې د اکثریتي سیستمونو د جملې څخه شمیرل کیږي او که چیرته په کوچنیو حوزو کې تطبیق شي بیا تناسبي دی، که چیرته دغه سیستم په داسې حوزه کې تطبیق شي چې دوه اویا له هغې زیاتې څوکۍ ولري او رایې ورکونکی یوازې د یوې رایې ورکولو حق لري او هر نوماند چې زیاتې رایې ترلاسه کړي هغه په دغه حوزه کې بریالی ګڼل کیږي.

### په یوهیواد کې رایې ورکونې د سیستم رامنځ ته کولو لپاره لازم معیارونه

هیوادونه د خپلو اړتیاوو اوغوښتنو سره سم د ځان لپاره ټاکنیز سیستمونه غوره کوي، خو یو لړ بین المللي اصول او لارښونې وجود لري په کار ده چې په هغه رعایت شي:

- د خلکو سیاسي اړیکواو بېلابېلو ډلو د پراخه استازیتوب تامین.
- شامل لرونکې او د ټولو کلیدي سیاسي شخصتونو اشتراک.
- د سیاسي ځواب ورکونې تامینول.
- د ټاکیزبهیر پایلې او په دغه برخه کې د شفافیت تامینول.
- د ګوندونو په داخل کې د دیموکراسی فرهنګ رایجول.

همداراز دپورتنیو اصولو ترڅنګ په دیموکراتیکو هیوادونو کې یوه اندازه ارزښتونه وجود لري چې د ټاکنیز سیستم د انتخاب پرمهال ورته جدي توجه کوي، دغه ارزښتونه په ټاکنو مثبتي پایلې لري:

- ✓ عادلانه
- ✓ په تطبیق کې اسانتیا
- ✓ موثره مقننه قوه
- ✓ د استازو لخوا رایه ورکونکو ته ځواب ورکونه
- ✓ د سیاسي مخالفینو د رول پیاوړتیا
- ✓ د جغرافیایي استازیتوب عادلانه تامین
- ✓ رایه ورکونکو ته د رایې ورکونې مساوي حق برابرول
- ✓ باثباته سیاسي نظام
- ✓ اداره او منجمنټ
- ✓ درایې ورکونکو په تعلیماتو کې اسانتیاوې برابرول

## په افغانستان کې ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰کلنو د ټاکنو په تجربوسره د SNTV سیستم ارزونه

د څېړنې په جریان کې هڅه شوې، هغه لومړې اسناد او راپورونه چې د افغانستان د ټاکنو په اړه د ملې او نړیوالو بنسټونو لخوا خپاره شوې تر څېړنې او مطالعې لاندې ونیسې.

دویم هغه مخورشخصیتونه او د نظرخاوند چې د ټاکنو، سیاسي ګوندونو او نورو اړونده برخو کې معلومات او نظریات لري.

په ځلورو کټګوریو کې (د پارلمان استازي، د پوهنتون استادان ، کارپوهان، سیاسي ګوندونو‌نه، مدني ټولنه او د ټاکنیزو ادارو کارکوونکي) په معیاري ډول هم په ګروپي توګه او هم په انفرادي توګه د یوه پوښتنلیک له مخې پوښتل شوې دي

د موجوده سیستم د کاروني او نه کاروني په تړاو یې نظر (نه لیږدېدونکي یوه رایه) او همدارنګه د احتمالي راتلونکي سیستم په اړه پوښتني او مرکې شوي.

نه لیږدیدونکي یوې رایې د سیستم په اړه هغه نړیوال اصول پکار دي چې د یو هېواد د سیاسي پراختیا په برخه کې ورته توجه کیږي.

د ذکر شویو ارزښتونو او اصولو په رڼا کې لاسته راغلي پایلې په لاندې توګه تشریح کیږي.

په افغانستان کې د SNTV سیستم پر کاروني چې کومه مطالعه وشوه، روښانه وی، چې د افغانستان په اساسي قانون کې له نورو دموکراتیکو ارزښتونو څخه د ملاتړ ترڅنګ د ټاکنو د پروسې، ټاکنیزو ادارو د ټاکل کېدو د حق په اړه هم وضاحت ورکړل شوی دی.که څه هم اساسي قانون په افغانستان کې د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره د اکثریت مطلق سیستم وړاندې کړی دی.

د اساسي قانون په ٦۱مه ماده کې داسې راغلي دي: (( ولسمشر د ازادو، عمومي، مستقیم او سري ټاکنو له لارې د رایې ورکوونکیو له ۵۰ سلنې څخه د ډېرو رایو په اکثریت ټاکل کیږي.))

د دغې مادې له مخې که چېرې یو نوماند و نه توانیږي چې په لومړي دور کې له ۵۰ سلنې ډېرې رایې واخلې، په راتلونکي دور کې دوه کاندیدان چې ډېرې رایې خپلې کړي دي له یو بل سره رقابت کوي او هر یوه چې د رایو اکثریت ترلاسه کړ، د ولسمشر په توګ پیژندل کیږي.

خو په اساسي قانون او د ټاکنو په قانون کې د نه لیږدیدونکي یوې رایې د سیستم په اړه کومه څرګنده اشاره نه ده شوې.

د ټاکنو قانون، ۲۰۱۰ د مصوبې، په ۲۱ مه ماده کې بیانوي، چې پارلماني څوکۍ باید (( د هغو کاندیدانو لپاره ځانګړې شي چې ډېرې رایې ترلاسه کړې.))

پردې سربېره د قوانینو وضاحت د ټاکنو د سیستم د نوعیت په اړه په پارلماني ټاکنو کې په ۲۰۰۵ کال کې یوازینی د نه لیږدیدونکي یوی رایې صورت نیولی چې وروسته دغه سیستم د ډېرو نیوکو لاندې راغی.

همدا لامل شو چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ۲۰۰۷ کال کې له مدني ټولنو او سیاسي ګوندونو څخه تر سلا مشورو وروسته د نه لیږدیدونکي یوی رایې په اړه د قانون مسوده د هېواد پارلمان ته وړاندې کړه.

په ۲۰۰۸ کال کې چې په پارلمان کې د ټاکنو په قانون کې مشکل رامنځ ته شو دغه طرحه هم بې اغېزې پاتې شوه. په همدې ترتیب د یادو ریپوټونو مطالعه هم څرګندوي چې د یوی نه لیږدیدونکي رایې سیستم په افغانستان کې له نیمګړتیاو او فوایدو څخه ډک و، په دې توپیر چې د دې سیستم عیبونه او نیمګړتیاوي د ټبر په پرتله ډېر شوي دي.

همدارنګه د مطالعو په ترڅ کې روښانه شوې چې د SNTV سيستم د لومړي ځل لپاره د کوم ارګان، يا کوم ګروپ او د ذيصلاح افرادو لخوا د کومو سياسي ،اجتماعي قابليت د مخې اجرا پيدا کړى او منځته راغلى.

لکه څرنګه چې ليدل شوى دغه راپورونه  درايې ورکوني د SNTV سيستم ګټې او نيمګړتياوې ، چې مستقيما په افغانستان کې په سياسي بهير تاثيرات لري ورته څرګنده اشاره نه ده شوې.

د مطالعې ترمخې په دغه اسنادو کې په افغانستان کې دسياسي بهير د پراختيا په برخه کې په منفي او مثبتو ټکو تمرکز ندى شوى او همدارنګه د SNTV سيستم مثبت او منفي اړخونه  د بين المللي منل شويو اصولو او ارزښتونو سره هم پرتله شوي ندي او  همدارنګه په دغه راپورونو کې دموضوع په اړه په مشخصه او مستقيمه توګه څه ندي ويل شوي. بلکې په غير مستقيمه توګه يې د SNTV سيستم په اړه يې څرګندوني کړې دي.

همدا ډول کتني څرګنده کړې چې ترټولو لوى انتقاد د SNTV په سيستم دا دى چې د سياسي ګوندونو د پراختيا مخنيوى يې کړى دى.

د زياتره هغه راپورونه چې کتل شوى او دغه موضوع ته يې اشاره کړې عبارت دى له : اروپا دامنيت او همکارئ سازمان په ۲۰۰۵او ۲۰۱۰کلنو ، اروپايي اتحاديې ۲۰۰۹ ، فيفا ، ۲۰۱۰ ، سيګار ۲۰۱۰ ، د ټاکنو مشترک مديريت ۲۰۰۵ ، انفرل د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹کلنو راپورونه او د اروپا د همکارى او امنيت  سازمان د ۱۵سپتمبر او ۱۲اکتوبر د ۲۰۰۴کال راپور.

دغه سيستم په حوزو کې د ګوندونو لخوا د نوماندانو معرفي کول له ستونزو سره مخ کړي دي، که چېرته يو ګوند په يوه حوزه کې څو تنه نوماند کړي رايې ويشل کيږي او د رايو په تناسب څوکۍ کميږي او همداراز د ګوندونو لخوا د لږو کسانو نوماندېدا هم ورته ستونزې لري او د رايو تمرکز په يو او يا څوتنو نوماندانو پورې محدوديږي.

د اروپايي اتحاديې د ۲۰۰۹ او د ديموکراسى انترنيشنل د ۲۰۱۱کال په راپورونو کې ويل شوي، چې د ناکام نوماند په برخه کې د رايې ورکوونکو د رايو ضايع کيدل هم يوله سترو انتقادونو څخه دي او د دغه سيستم يې په هيواد کې يو نا کاره او کمزورى سيستم معرفي کړى دى ځکه چې په دغه سيستم کې د پارلمان څوکۍ په هره حوزه کې د زياتو رايو ترلاسه کوونکي کسان بريالي او د ناکامو نوماندانو رايې ضايع کيږي.

د انفرل لخو په ۲۰۰۹کال کې په خپور شوي راپور کې راغلي دي چې د دغه سيستم تطبيق اسانتيا، بېسوادي اوپر ګوندونو د خلکود بى باوري پراساس د SNTV سيستم په افغانستان کې غوره شوي دي.

په دغه سيستم کې د اداري، تخنيک او لوجستيک په برخو کې نيمګړتياوو ته د  اروپايي اتحاديې د ۲۰۰۹ ، دفيفا د ۲۰۱۰کال راپور ، دسيګار د ۲۰۱۰ او د ټاکنو د مشترک مديريت د ۲۰۰۵کال په راپورونو کې ذکر شوى دى.

د انترنيشنل ديموکراسى د ۲۰۱۰کال په راپور کې ويل شوي چې د SNTV سيستم په ټاکنو کې د ګواښونو او جعلکاريو هڅوونکي دي او د سيګار د ۲۰۱۱کال په راپور کې همدغه خبره تاييد شوې ده.

په عين حال کې پارلمان ته په متفاوتو رايو سره د کانديدانو تلل هم د دغه سيستم د نيمګړتياوو څخه ګڼل کيږي،لکه څرنګه چې د بحران د بين المللي ګروپ د ۲۰۰۱ د اروپايي اتحاديې د ۲۰۰۹ د انترنيشنل ديموکراسى د ۲۰۱۱ او د سيګار د ۲۰۱۰ کال په راپورونو کې دغه موضوع ته اشاره شوې ده.

## د مقننه قوې پرکړنو د SNTV سيستم تاثيرات

په افغانستان کې دټاکنو په اړه ملي او بين المللي خپاره شوي راپورونو په مستقيمه او غير مستقيمه توګه پرمقننه قوې باندې د SNTV سيستم منفي تاثيرات تاييد کړي دي،لکه څرنګه چې د ۲۰۰۹د اګست دمياشتې په ۲۰مه د اروپايي اتحاديې لخوا په خپور شوى راپور کې په دغه برخه کې صراحت شوى، د ګوندونو نيمګړتيا د ولسي جرګې په کړنو جدي تاثيرات لري،چې دغه

هم د SNTV سیستم د لارې اداره کیږي،دغه سیستم د دیموکراسی د مخکې تګ په وړاندې د مناسبو فرصتونود تمرکز مخنیوی کوي او هم یې د پارلمان په داخل کې د افغاني سیاستوالو ترمنځ توازون محدود کړی دی .

سربیره پردې له څلورو کتګوریو څخه ټول هغه کسان چې عمومي او انفرادي مرکې ورسره شوې دي ، د رایې ورکونې سیستم د مقننه قوې او په ځانګړې توګه د ولسي جرګې په کړنو باندې ډیر موثر ګني، د نه لیږدیدونکې یوې رایې SNTV سیستم د ټاکنو په تیرو ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰کلنو په پارلماني ټاکنو کې د خپلواکو نوماندانو د پیاوړتیا اوپه ولسي جرګه کې د ګوندونو د حضورد مخنیوي سبب شوی دي، نودا هم په افغانستان کې د مقننه قوې د کړنو دعدم موثریت لامل ګڼل کیږي .

همدارنګه مرکه کوونکو په اتفاقي سره دېته اشاره کړې چې د ولسي جرګې غړي په انفرادي توګه او د بېلا بېلو سلیقو په لرلوسره په ټولیزه توګه د تصمیم نیونې په برخه کې ستونزې په نښه کړې دي.

په همدې ترتیب د پارلمان هغه غړي چې مرکې ورسره شوې دي، د دغه موضوع داهمیت په اړه یې مشابه څرګندونې کړې دي او د پارلمان په چارو کې د دولت، سوداګرو او ما فیایي ډلو لاسوهنې زیاتره د انفرادي استازیتوب لامل دي چې د SNTV سیستم سره تړاو لري.

دا پداسې حال کې ده چې د کارپوهانوله ډلې څخه زیاتو هغه کسانو چې مرکې ورسره شوې دي، څرګنده کړې ده چې د ولسي جرګې دغړیو ترمنځ د تفاهم او همکاریو په مستقیمه توګه د پارلمان د جوړښت پورې تړلې دي،که چیرته پارلمان یوه ټوټه وي نو په تصمیم نیولو کې چټکې راولي او د ولسي جرګې دغړو ترمنځ د تفاهم په زیاتوالي ، دهمکاریو او همغږۍ په رامنځ ته کولو کې زیات موثر دي.

همداراز دغه کتګوري په متحده توګه د تصمیم نیونې د تامین هڅې په پارلمان کې د ګروپي ډلو په رامنځ ته کول د حل یوه لاره بولي چې د پارلمان په تیره دوره کې یې وړاندیز شوی وو، خو موثر ونه ګڼل شو او په ریښتني توګه په پارلمان کې دسیاسي ګوندونو پیاوړتیا د SNTVسیستم په تغیر باندې تاکید شوی وو.

د مدني ټولنې ګروپ د تخنیکي پلوه دغه موضوع ته اشاره کړې او تاکید یې کړی چې د پارلمان نه یوالی د مدني ټولنې د غوښتنو وړاندیزونو په وړاندې ستر مانع دي، څکه چې په پارلمان کې د ګروپ بندۍ پرته ستونزمنه ده چې د وړاندیزونو او طرحو په اړه په لړوخت کې د پارلمان حمایت ترلاسه شي، په همدې دلیل د مدني ټولنو پروګرامونه اوطرحې لازمي پایلې نه درلودې.

په عمومي ډول د ګوندونو ګروپ څرګنده کړې چې په هېواد کې د ټاکنو موجوده SNTV سیستم د پارلمان په یووالي منفي تاثیرات لري څکه چې دغه سیستم د ګوندونو حضور کم رنګه کوي او ترڅو چې په پارلمان کې ګوندونه فعال حضور پیدا نکړي د امکمنه نده چې په پارلمان کې قوي ایتلاف رامنځته شي او پارلمان په وړو ډلو ویشل کیدل غیرقانوني نفوذ ته لاره هوار وي او په همدې ترتیب د پارلمان اغیزمنتوب او د دولت پرکړنو نظارت له خنډ سره مخ کوي.

دغه ګروپ په ټوله کې په دې باور دی چې د پارلمان یوالی په مستقیمه توګه د دولت په کړنو تاثیر لري او دغه یووالی هغه وخت رامنځته کیږي چې په پارلمان کې قوي ایتلافونه جوړ شي دغه ډول ایتلاف هغه وخت راتلای شي چې ګوندونه په پارلمان کې حضور ولري، خو په تاسف سره چې موجوده ټاکنیز سیستم د ګوندونود پیاوړتیا څخه ملاتړ نه کوي، په ځانګړې توګه د پارلمان د یوالي په برخه کې داسې څرګندونې کړې، د ښځو په برخه کې د فعالو مېرمنو ګروپ هم د پارلمان د نه یوالي له امله د ښځو د استازیتوب په اړه څرګنده کړې،چې موجوده سیستم د پارلمان په داخل کې د ښځو دیووالي په وړاندې مانع ګڼي او په همدې اساس د ښځینه وکیلانو لپاره ستونزمنه ده چې د جنډر په څیر موضوعاتو کې یو نظر ولري، که څه هم دوی د سیاسي اوښځینه ټولنیزو سازمانو لخوا معرفي شوي او پارلمان ته یې لاره پیدا کړې ده، پخپله ښځې نشي کولای چې یو قوي او پیاوړی ایتلاف رامنځته کړي.

## د منتخبو استازو لخوا رایه ورکوونکو ته د ځواب ورکونې پراصل دSNTV تاثیرات

د تفصیلي مطالعې په پایله کې چې د ملي او بین المللي ادارو لخوا د ټاکنو په اړه خپاره شوي راپوروته، په افغانستان کې داروپایي اتحادیې د ټاکنو دنظارت ماموریت په خپل راپور کې چې د ۲۰۰۹اګست په ۲۰مه خپور شوی دSNTV سیستم د ښوالي ترڅنګ په عین وخت کې داستازو لخوا رایې ورکونکو ته د ځواب ورکونې اصل د کمزوری له امله پرې نیوکې کیږي.

یاد راپور پدی اړه وایي: نوماندان هغه کسان نه پیژني چې دوی ته یې رایه ورکړې او همداراز رایې ورکونکي هم دا نه شي ثابتولی چې دغه مشخص نوماند ته رایه ورکړي ده، نو له دې امله وکیلان د موکلینو په وړاندې د کم مسوولیت احساس کوي اوکله چې استازې ځانونه مسوول احساس نکړي د ځواب ورکونې اصل کمزوری او تر پوښتنې لاندې راځي.

ټول هغه کسان چې د بیلابیلو کټګوریو څخه وو په اتفاق سره یې نظر ورکړچې د استازو لخوا خلکو ته د ځواب ورکونې اصل ډېر مهم دی او د دیموکراسی د قانوني کېدو لپاره یې اړین بللي دي. د هغه څلورو کټګوریو خلک چې مرکې ورسره شوي ټولو ویلي دي چې د SNTV سیستم انفرادي غریتوب پیاوړی کوي او د ملي ګوندونو په وړاندې خنډونه ایجادوي او نه شي کولای چې د استازو له خوا خلکو ته د ځواب ورکونې اصل تامین کړي، نوځکه تمه نه کیږي چې استازي دې په انفرادي ډول پرته له پخوانیو پروګرامونو څخه پارلمان ته لاره پیدا کړي او د موکلینو په وړاندې د حساب ورکونې د مسوولیت احساس وکړي ګوندونه ددې برخلاف دایم او مشخص پروګرامونو د درلودلو ترڅنګ دخلکو رایو ته ضرورت لري او په منطقي لحاظ خپل ځانونه خلکو ته په ځواب ورکوونه مکلف بولي نو دا ممکن نه ده چې دSNTV سیستم په ساتلو سره چې په پارلمان کې د ګوندونو فعاله ګډون په وړاندې خنډ او خلکو ته د ځواب ورکونې اصل دی تامین کړای شي.

د مدني ټولني ګروپ په انفرادي مرکو کې څرګنده کړې، چې که چېرته دخلکو استازي دیوی سیاسي اجندا په لرلوسره چې د ټاکنیزو سیالیو څخه دمخه یې دلاس لاندې ونیسي اوله دغه لارې پارلمان ته لاره پیدا کړي زیات مکلفیت او د خلکو په وړاندې دځانونه ځواب ورکوونکي احساسه وي، په انفرادي توګه پرته له کوم سیاسي اجندا څخه دغه کار په هغه صورت کې ممکن دی چې دیو سیاسي ګوند په چوکاټ کې سیالیوته ورداخل شي.
د یادي کټګورۍ یوشمېر غړو دمدني ټولنو لخوا د پارلمان پرکړنو باندې نظارت ته اشاره کړې او دغه مسله یې د شفافیت او خلکو ته د ځواب په ورکونه کې مهمه بللې ده، دغه کټګورې په عین حال کې له دې څخه اندېښنه لرې چې په پارلمان کې به ځینې استازي په انفرادي توګه د پارلمان څخه دمدني ټولنې د نظارت په وړاندې خنډ شي.

دا پداسي حال کې ده چې د ګوندونو د کټګورۍ هغه کسان، چې مرکې ورسره شوې تاکید کړی چې د مسوولیت د احساس په ایجادول او د استازیتوب په رول مکلفیت یو ضرور کار دی،په انفرادي توګه پارلمان ته په تلوکې د خلکو سره په کړو ژمنو د وفا هېڅ مسوولیت احساس نه کوي او داسي ارګان هم شتون نلري چې د موکلینو په وړاندې د هغوی له کړنو څخه نظارت وکړي، دغه کار هلته ترسره کېدای شي چې استازي د سیاسي ګوندونو په چوکاټ کې پارلمان ته داخل شي دیو ګوند د ځواب ورکونه موثره ده نسبت انفرادي ځواب ورکونې ته .

په عیني وخت کې د ۲۰٪ هغه افرادو سره چې مرکې شوي د پوهنتون داستادانو په کټګورۍ کې د نظرخاوندان په دې اند وو، چې د ځواب ورکونې اصل دټاکنو د سیستم سره کوم اړخ نلري او کېدای شي چې د ټاکلي جامع طرزالعملونو دلاری خلکو ته د ځواب ورکونې ستونزه حل کړي.

## د سیاسي ګوندونو په پراختیا او د ګوندونو په داخل کې د دیموکراسۍ اصل په رایجولو کې د SNTV سېستم رول

د هغه راپورونو دکتنې په پایله کې چې د ملي او بین المللي ارګانونو لخوا  خپاره شوي په ځانګړې توګه د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان[1] له راپور (۳،۲،۱)څخه په دغه ټکي پوهیږو چې د SNTVسېستم د سیاسي ګوندونو په پراختیا او د دیموکراسۍ په برخه کې پرفعالیت کوونکو باندی منفي تاثیرات لري اوهمدا رازد انترنیشنل دیموکراسۍ[2] په هغه راپور کې چې د ۲۰۱۱کال د جو ن په میاشت کې خپور شوی پکې راغلي دي چې [ په افغانستان موجوده ټاکنیزسېستم د ګوندونو د پراختیا او دټولنې دبېلابېلو توکمونواستازیتوب په وړاندې خنډ دی او هم ټاکنو کې د ګواښونواو جعلکاریو سبب دی او په همدې ترتیب یوشمېر ملی او بین المللي ارګانونو په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه پدې تاکید کړی چې SNTV سېستم د سیاسي ګوندونو د پراختیا پربهیرباندې منفي تاثیرات لري.

د څلورو واړو کټګوریو هغه کسان چې مرکې ورسره شوې دي ټول د سیاسي او ملي ګوندونو په پراختیا او پیاوړتیا باندې متفق وو اوهمداراز دوی زیاته کړې چې د یموکراسي  پرته له سیاسي ګوندونو څخه دوام نشي کولای اونه په افغانستان کې روان سیاسي بهیر بریالی کیداي شي،هرکله چې سیاسي ګوندونه په یوه دیموکراتیک نظام کې کمزوري وساتل شي لرې نده چې افغانستان د انحراف ، استبداد اویا هم د انارشېزم په ښکاریدو سره له اصلي مسیر څخه بې لارې شي. نو لازمه ده چې په هېواد کې د سیاسي ګوندونو دپراختیا بهیر د پیاوړې کیدو په برخه کې هڅې ګړندۍ اوعملي شي، چې یوله دغه هڅو څخه د SNTVسېستم تغیرول دي، چې پایله به یې په سیاسي بهیرونو کې د سیاسي ګوندونو فعالول وي.

د مدني ټولنې هغه کسان چې مرکې ورسره شوي څرګنده کړي چې دیموکراسي پرته له ګوندونو څخه ترهغې نشي مطرح کیدای ترڅو چې په ټاکنو کې دګوندونو رول پیاوړی نه شي ، موجوده د SNTVسېستم په ټاکنو کې د سیاسي ګوندونو له رول څخه حمایت نه کوي نو لازمه ده چې دغه سېستم په یوه مناسب سېستم باندې تبدیل کړای شي.

په دیموکراتیکو نظامونو کې همدا ګوندونه دي چې د دولت او خلکوترمنځ د پل  په جوړېدو کې  له د مدني ټولنو سره مرسته کوي اوپه همدې ډول مدني ټولنې د سیاسي نظام په اصلاح کې پردولت باندې د خپل نفوذ څخه په کار اخیستنې د ګوندونو سره مرسته کوي، که چېرته فعال ګوندونه وجود ونلري دغه همکاري هم نه تامینږي.

د پوهنتون استادانو د کټګورۍ او د سیاسي چاروکارپوهانو هغه ډله چې مرکې ورسره شوي،په اتفاق سره په دې تاکید کړی چې د سیاسي ګوندونو د داخلي ظرفیت دنه لوړتیا یو دلیل پدغه برخه کې دګوندونو خپله ناتواني ده او ددې جوګه ندي چې رشد وکړي، ځکه چې په ټاکنو کې دګوندونو رول غیر فعال او دغه ګوندونه په داخل کې ماډرن کیدو ، په  جوړښت کې دیموکراسي رامنځته کولوته هم تیارندي اونه هم خپل سیاسي او حقوقي مکلفیت احساسه وي اونه هم داسې باندینی محرک شته چې په افغانستان کې ګوندونه دېته وهڅوي چې د ګوندونو په اخل کې د دیموکراسۍ فرهنګ پیاده کړي، دوه عامله کیداي شي چې په دغه برخه کې موثروی یو د دولت لخوا مالي کمک او بل د ټاکنیز سیستم د لارۍ د ګوندونو رول پیاوړي کول.

دا په داسی حال کې ده چې ٪۲۰سلنه د سیاسی چارو  هغه کارپوهان چې مرکي ورسره شوی پدی باور دي، چې د سیاسي ګوندونو غیر فعال رول پخپله د ګوندونو کمزورتیا ده او د ټاکنو سیستم پدغه برخه کې چندان رول نلري، که چیرته ګوندونه ملی

---

[1]- د اروپایی اتحادی د امنیت سازمان راپورنه 2004 اکتوبر 12،مخ 9 / 2005 اکتوبر ۶ مخ ۳ ،۶،۷ او ۲۰۱۰ نومبر ۲۶ مخ ۱۶،۱۷
[2]- انتر نیشنل دیموکراسی راپور ۲۰۱۱ جون ۴۶ مخ

شي او خپل جوړښت د انحصار څخه اوباسي نو کېدای شي چي د خلکو زیات حمایت ځانته راجلب کړي او د خپلو استازو د حمایت په کولو سره په پارلمان کي څوکی ترلاسه کړي.

همدارنګه دسیاسي ګوندونو استازو د ټولو ګروپونو په تایید سره زیاته کړي چي د ټاکنو سیستم د ګوندونو په پیاوړتیا مستقیم تاثیرات لري او همدا ټاکنیز سیستم دی چي د پارلماني او د ریاست جمهوري څوکی ټاکي، ځکه چي د سیاسي ګوندونو هدف د ټاکنو دلاري څخه د سیاسي قدرت لاسته راوړل دي، په ټاکنیز نظام کي اصلاحات او دولت ته د طرحو وړاندي کول، ترڅو د افغانستان په قوانینو او په ځانګړي توګه د ټاکنو قانون ، قانوني او حقوقي تضمیناتو باندي که عمل ونشي نه ګوندونه رشد کولای شي او نه هم دیموکراتیکه کیدای شي، په تاسف سره چي موجوده ټاکنیزسیستم یوقانوني نقص دی او د ګوندونو د رشد پرووړاندي مانع ګڼل کیږي.

دا پداسي حال کي ده چي د ټاکنیزو ادارو کارکونکو د ټاکنو د سیاسي ګوندونو د رول او رشد په برخه کي خوشالوونکي څرګندوني کړي او د سیاسي ګوندونوپیاوړی رول زیات موثر ګڼي، ځکه چي سیاسي ګوندونه کولای شي چي د خلکو په عامه پوهاوي کي اغیزمن واقع شي، همدارز سیاسي ګوندونه د فعال نظارت دلاري څخه کیدای شي چي دټاکنو د بهیر د شفافیت په برخه کي ګټور ثابت شي، په همدي ترتیب د سیاسي ګوندونو لخوا د ټاکنیزو د طرزالعملونو د اصلاح په موخه طرحي او وړاندیزونه به له ګټي خالي نه وي، نو لازمه ده چي د ګوندونو رول داسي فعال شي چي د ټاکنو د اړیرشن په برخه کي په څرګنده توګه ترسترګو شي.

د مېرمنو د کټګوری له افرادو څخه هغه ډله چي مرکي ورسره شوې ، څرګنده کړې، چي د SNTV سیستم په ټاکنو کي د ګوندونو د کمزوري رول یواځنی عامل ندی، بلکي د ګوندونو په جوړښت کي د جندر مسله په پام کي نه نیول هم ددي لامل دی چي ګوندونه په ټولنه کي لازم حمایت نلري، نو له دي امله ګوندونو ته پکار ده چي د ټاکنیزسیستم د تغیرسربیره د مېرمنو د رول د پیاوړتیا په برخه کي هم فکرمند شي، ځکه چي یواځي د ټاکنیز نظام د تغیرلکبله ګوندونه خپل ځانونه ملي کولای نشي.

## په هیواد کي د اپوزیسیون په رول باندي د SNTV سیستم رول

د سیاسي اپوزیسیون د رول اهمیت په یوه دیموکراتیکه ټولنه کي د یو اصل په صفت په نړیواله کچه په ټاکنو کي د رایي ورکوني دسیستم تعین د توجه وړ دی، دا هم یوله هغه مواردو څخه دي چي د مرکه کوونکو څلوراړو کټګوریو پري بحث کړی دی.
د هغه راپورونو د مطالعي په پایله کي چي د ملي او بین المللي ارګانونو لخوا خپاره شویدي، د جهاني ډلې[3] په ۲۰۱۱ فبروری په ۲۳مه او د اروپا د امنیت او همکاری سازمان[4] لخوا د ۲۰۰۵اکتوبرپه ۱۶مه په خپرو شویو راپورنو کي په غیرمستقیمه توګه د SNTV سیستم د اپوزیسیون درول د پیاوړتیا په برخه په کي کمزوري پیژندل شوی دی او تاکید شوی چي دغه سیستم د ګوندونو د رشد په وړاندي مانع دی او په همدي لاره کي د سیاسي او حقوقي ممانعتونو د فعال او موثر اپوزیسیون په رول متاثیر کړی دی.
په عین وخت کي د څلورو کټګوریو هغه افراد چي مرکي ورسره شوي دي، د بېلا بېلو دلایلو له مخي يي په یوه دیموکراتیک نظام کي د اپوزیسیون رول د اهمیت وړبللی دی، د هیواد په اوسنیو شرایطو کي په افغاني ټولنه کي د سیاسي اپوزیسیون رول یو مهم امر پیژندل شوی دی، په اوسني وخت کي د یو داسي موثر اپوزیسیون نه شتون چي وکولای شي دولت د مدني فشارونو په واسطه اصلاحاتو ته اړ کړي، په هیواد کي یو له هغه ستونزو څخه دی دوی په ګوته کړي دي.
که څه هم د څلورو کټګوریو ټول هغه افراد چي مرکي ورسره شوي د ٪۵۰سلني څخه زیاتو يي د دلایلو له مخي د SNTV سیستم په نه کارولو کي د اپوزیسیون رول اغیزمن ګڼلی دي او د دغه سیستم پرځای د داسي یونظام غوښتونکي دي چي په دغه برخه کي موثر وي. دا پداسي حال کي ده چي د ٪۵۰سلنه څخه لږو هغه کسانو چي مرکي ورسر شوي، په هیواد کي د اغیزمن

---

[3]- د جهانی بهران ګروپ راپور ۲۰۱۱ فبروری ۲۳ مه مخ ۵
[4]- د اروپایی اتحادیی د امنیت سازمان راپور2005 اکتوبر ۶ مخ ۳ ،۶،۷

اپوزیسیون دنه شتون په اړه نور عوامل په گوته کړي،لکه د گوندونو نا توانايي او رشد ته يې د نړیوالي ټولنې عدم توجه ښودل شوې ده.
د مدني ټولنې هغه گروپ چې مرکې ورسره شوي دي، د نورو عواملو ترڅنګ د ټاکنو سېستم د اپوزېسیون په رامنځ ته کولو کې مهم رول لري او پیاوړي سیاسي اپوزېسیون بواځې د سیاسي گوندونو په وجود کې تبارز کولای شي، که څه هم اوسمهال په هېواد کې گوندونه وجود نلري نو پدغه برخه کې د ټاکنیز سېستم رول مهم دی.
د افغانستان په اوسنیو شرایط کې د یو فعال اپوزېسیون رامنځته کول یو مهم کار دی، په هېواد کې سترو مشکلاتو څخه یو هم د پیاوړي اپوزیسیون نه شتون دی که څه هم دیموکراسی پرته له یو پیاوړي او اغیزمن اپوزېسیون څخه مفهوم نلري د موثر اپوزېسیون نه شتون ددې لامل شوی چې دولت دخلکو په وړاندې بې ځوابه کارونه کوي او پرکړنو يې هېڅ ډول نظارت شتون نلري چې په دولت کې اصلاحات رامنځته کړي، یو فعال او قوي اپوزیسیون کولاي شي چې د گوندونو په چوکاټ کې ښه رشد وکړي او د مدني ټولن ترڅنګ دواړه کولاي شي چې د دولت پرکړنو نظارت وکړي اود قانون د اصلاح په برخه کې موجوده نظریات یو دبل سره شریک او د تطبیق په برخه کې يې مرستندویه ثابت شي.
د مدني ټولنې د کټگورۍ هغه کسان چې مرکې ورسره شوې دي، پدې نظر ووچې د دولت پرکړنو د شریکو هڅو او موثرنظارت لپاره یو میکانیزم رامنځته کړی، سیاسي گوندونه او په ځانگړې توگه پیاوړی اپوزیسیون موثر دی،ځکه چې یوازې مدني ټولنې کولای چې ددولتي ادارو پر کړنو موثر نظارت ترسره کړي.
دا پداسې حال کې ده چې د سیاسي گروپ زیاتره هغه کسانو چې مرکې ورسره شوي دي، پدغه ټکي ټاکید کوه ، ترڅو چې ټاکنیز سېستم د سیاسي گوندونو رول تضمین نکړي، د پیاوړي اوفعال اپوزېسیون رامنځته کول ډېر گران کار دی ځکه چې په دیموکراسی کې گوندونه دي چې د سیاسي ایتلافونو په جوړولو سره یو پیاوړی اپوزیسیون رامنځته کیږي او ددولت پرکړنو زیات موثر وی.
دپوهنتون او سیاسي چارو هغه کارپوهان چې مرکې ورسره شوی زیاترو يې دیو داسې پیاوړی اپوزیسیون د جوړیدو وړاندیز کولو چې پر دولت فشار راوړي ترڅو د اصلاحاتو په رامنځته کولو او دستونزو د حل په برخه کې يې خپل وړاندیزونه کړی دی، خو په عینې وخت کې هغوی دیو معامله کوونکي اپوزیسیون څخه اندیښنه لری چې یوازی د امتیازاتو په غم کې وی اصلاحات نه شی کولای اونه هم ددولت پرکړنو موثروی.
که چېرته سېستم داسې وی چې په ټاکنو کې گوندونو ته د سهمیه په ورکولو سره په اسانی سره کیداي شي چې منسجم او پارلمان ته لاره پیدا کړي، پدغه صورت کې په ښه توگه قوی ایتلافونه رامنځته کیږي، چې د دولت څخه نظارت وکړي.
همدارنګه دمیرمنو د فعالینو گروپ پدی تاکید کړی چې که چیرته وغواړی چې اپوزیسیون فعال اوسی نو د میرمنو په برخه کې دی فعال رول ولوبه وی ترڅو اپوزیسیون دټولنې دټولو قشرونواستازیتوب وکړای شي په دغه صورت کې کولای شي چې د یوه سیاسي موقف څخه خبري وکړي، پدغه برخه کې اوس هم مشکلات شته او دا کار هغه وخت ممکن دی چې سیاسي گوندونه په خپل جوړښت کې د مېرمنو ونډه زیاته کړي.

## په ټاکنیزو ادارو کې د مېرمنو او اقلیتونو د استازیتوب پرتامین باندې د SNTV سېستم تاثیرات

په ټاکنیزو ادارو ( پارلمان ، د ولایتونو او ولسوالیو شوراگانې) کې د مېرمنو او اقلیتونو د استازیتوب تامین کولای شي، له یو پلوه د مېرمنو او اقلیتونو حقونو ته احترام په یو فرهنگ بدلول او دبل پلوه د ملي وحدت په تامین کې یو مهم گام شمېرل کیږي،نو له دې امله په ټولنه کې ددغه اصل رشد یو مهم اصل گڼل کیږي،لازمه ده چې په ټاکنو کې درایې ورکونې په سېستم کې په پام کې ونیول شي.

هغه راپوړونه چې تفصیلي مطالعه يې شوې، یو يې هم په افغانستان کې د ملل متحد د سر مفتش خاص دفتر[5] راپور دی چې د ۲۰۱۱کال[6] د سپتمبر د میاشتې په ۹مه نیټه خپور شوی، د ضعیفو او قوي نقطو په ذکرکولو سره دSNTV سېستم د اقلیتونو د استازیتوب په تامین کې مهم گڼلی او په دغه سېستم کې د مېرمنو اصلي سهمیه هم تامین ده.

[5]- په افغانستان کی د ملل متحد د سر مفتیش دفتر لخوا د 2010 سپتمبر په 9 مه خپور شوی راپور
[6] داروپای اتحادیی د امنیت او همکاری سازمان راپور ۶اکتوبر۲۰۰۵ مخ ( ۳- ۶- ۷ )

همدارنګه دجامعه مدني ټولنو زیاتره هغه میرمني چي مرکي ورسره شوي ، په ټاکنیزو ادارو کي د ښځو فعال حضور سهمیه (کوټه) اختصاص کول مهم ګڼلي د کوټي دساتلو سربېره، د SNTVسېستم د احتمالي تغییر پرځای تناسبي سېستم کي هم باید د مېرمنو سهمیه او د اقلیتونو د استازیتوب د قانوي مکلفیتونو په رامنځته کولو او په ګوندونو کي باید په پام کي ونیول شي.

د مدني ټولني دکتګورۍ ټول هغه کسان چي مرکي ورسره شوي د SNTVسېستم د اقلیتونو د استازیتوب د تامین په برخه کي مقصر ګڼلي دي او تاکید یي کړی،چي د SNTVسېستم په ساتلو سره نا ممکنه ده چي په منتخبه توګه د اقلیتونو استازیتوب په طبعي شکل سره تامین کړای شي، نوله دې امله لازمه ده چي د ټاکنیزسېستم په تغییر او اصلاح کي د اقلیتونود استازیتوب تامین ته خاصه توجه وشي.

د سیاسي چارو کاروپوهانو څرګنده کړي که څه هم ټاکنیز سیستم د اقلیتونو په استازیتوب باندي مستقیم تاثیرات لري او ترکومه وخته چي میرمني د سهمیی له سیستم څخه برخمني وي د ټاکنو سیستم تغییر مهم تاثیر نلري او د اقلیتونو په برخه کي یاده ستونزه په خپل ځای پاتي ده ځکه چي په موجوده سیستم په کاروني سره اقلیتونه په هیڅ صورت نشي کولاي چي پارلمان ته لاره پیدا کړي.

دا په داسي حال ده چي د سیاسي ګروپونو له نظریاتو څخه په ډاګه شوی چي که چېرته په ټاکنو کي ګوندونو ته فعاله ونډه ورکړل شي دا پخپله ګوندونه دیموکراتیک کوي او په موجوده سېستم کي اقلیتونه نشي کولای چي ځوکی لاسته راوړي، د ګوندونو دلارې د لیاقت سالارۍ د اصل پراساس کولای شي چي د استازیتوب د حق څخه برخمن شي. هغوی همداراز د میرمنولپاره د کوټه سیستم په اړه خوښي څرګنده کړي او پدغه برخه کي سیاسي ګوندونه ترټول دیته متعهد بولي چي په سیاسي مشارکت کي د میرمنو سهمیه وساتي.

## د ټاکنیزو سیالیود مالي چارو پر شفافیت باندي د SNTV ټاکنیزسیستم تاثیرات

یو له هغه تخنیکي مواردو څخه چي د شفافیت په اندازه کي رعایت کړای شي، په ټاکنیز بهیرباندې د خلکو باور یو هیواد ته پیاوړتیا ورکوي او د ټاکنیزو سیالو پرمهال د لګښتونو کنترول لپاره یو میکانیزم وي نو پدی اساس سیاسي مشران د قانون جوړوني ارګانونه اود هیواد مسوول چارواکي په دیموکراتیکو هیوادونو کي دغي برخي ته توجه کوي اوهڅه یي دا وي چي داسي یو سیستم تعین کړي چي ترڅنګ یي نورې ګټې هم وي او د مالي لګښتونو د کنترول په برخه کي د تطبیق قابلیت پکي محسوس وي.

د بین المللي ارګانونو د راپورو په لړی کي د انترنیشنل دیموکراسی[۷] په هغه راپور کي چي په ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کي خپور شوی په کي راغلي دي چي SNTV سیستم په ټاکنو کي د جعلکاریو لپاره لاره هواروي او په غیر مستقیمه توګه یي دغه سیستم د مالي لګښتونو د شفافیت اصل نه تامینوي، ځکه چي پدغه سیستم کي د جعلکاریو زیات امکان شته.
